

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړني

کتاب نوم: درد - د زړه خبرې د قلم په ژبه

راټولوونکي: سکندر ( صافي )، ممتاز ( ضياء )

برېښنالیک: mumtazzia2019@gmail.com

اړیکو شمېره: 0786985084 - 0789424278

چاپځای: شمس مطبعه - ننګرهار

چاپ وار: لومړی

چاپ کال: ۱۳۹۹ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالـۍ

ټولو مئیـنـانو تـه زمـا

له طرفه ډالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لیونۍ فکر کوي ما هیره کړې...

خو نه پوهیږي چې د هغې یاد زما ژوند دی...

ای زما سپېڅلې مینې!

***

ایا پوهیږې! ستا په هیرولو به مې روح اسمانونو ته فنا شي ؟؟

که غواړې همداسې وشي نو یو ځل بیا مې...

ستا په هیرولو تهمتي کړه.

***



ما ته مې زړه بې روحه ښکاري...

زه مې دردونو پسې خفه یم...

زه مې خفګان پسې خفه یم...

زه مې سپېڅلو اهونو پسې خفه یم...

کاشکې مې هغه د ګرمو اوښکو...

ناڅاپه ویاله د ورځې یو ځل په مخ بهیدی...

کاشکې د هغې مینې تل ژړولم...

اووف خدایه ...!

ایا زه یوائېنی کس یم چې له درده خوند اخلم ؟

ایا زه یوائېنی کس یم چې ژړا پسې ژاړم...؟

زه د هغې مینې ته هم د خوښې لپاره خوشحاله یم ...

هم د خفګان لپاره...

هغه زما لپاره ټوله خوند ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library





زه او ته یو ځای نه شوو...

خو د محبت له نامه قربان شم...

مونږ یې دومره یو بل ته نږدې کړې یو...

چې د دنیا یې رابطو په نامه یې نه شو یادولی...

که څوک وپوښتي څه مې کېږې ؟؟؟

هیڅ نوم نه لرم ، ته هم هیڅ ورته مه وایه...

د محبت همدا لوی مقام مو بس دی.

***

وایي! د جمعې د ورځې دعا عرش ته ځي...

ای خدایه...!

د یوه انسان محبت هغې مرحلې ته...

مه رسوه چې...

د خپل تللي محبوب د بیا لیدلو...

درد او تاب ونه لري.

***

د ژوند لپاره مې روح لرم...

د لیدو لپاره سترګې...

یوازیتوب ته ستا خیالونه لرم...

او د مینې لپاره زړه...

ددې ټولو د ساتلو لپاره خدای ته راکړې یې...

او بیا ستا د ساتلو لپاره...

زما د بې انتها مینې بې پایه جنون.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د هغې ژړا تم نه شوه...

هغې په ژړغوني غږ وويل...

تا زما په زړه څه کړي...

زه دې ولې ليونۍ کړې يم...

ما د هغې په ښکلو سترګو کې سور اور وليد...

د هغې زړه او سترګو دواړو ژړل...

نن پوه شوم...

د هغې بې انتها مينې ته زما جنون هيڅ هم نه وو...

خو په دې هم پوه شوم...

چې...

هغه زما د وفا په مټ ژوند کوي...

او زما د مينې په روح ژوند پا تې ده.

***

نن مې د هغې له تصوير څخه وپوښتل...!

ايا ستا په خپلولو به مې تقدير بدل شي...؟؟؟

هغه مسکۍ شوه...

بيرته يې سړه ساه وايستله...

غږ يې بدل شو...

سترګې يې ډ کې شوې...

ورو يې وويل :

ته ما خپله کړه...

بيا که څه بدليږي که نه...

زه يې هيڅ پروا نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هغه ستر ګې چې ته يې ليدلې وې...
په تا پسې ژاړي...
هغه زړه چې ستا رنګ يې اخيستی...
ستا په ياد کې کړيږي...
هغه روح چې بې تا نيمګړی وو...
لا نيمګړی دی
او هغه ارزوګانې چې بې تا بې روحه شوي.
لا دې د راتګ معجزې ته په تمه دي...
نو ای زما سپيڅلې مينې... !!!
راشه...!!!
او په راتګ دې يو ځل بيا ته نوی ژوند ورکړه.

***

ژوند دومره ښکلی دی لکه د هغې ستر ګې...
د هغې ستر ګې دومره ښکلې دي...
لکه زموږ مينه...
زموږ مينه دومره ښکلې ده...
لکه زموږ د وصال د شيبو خيالونه...
د وصال خيال دومره ښکلی دی...
لکه ...!!!
ما چې د هغې په مړوند...
تر سهاره سر ايښی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




هغې ته مې وویل: خدای دې ما مړ کړي!!!
د هغې له سترګو اوښکې توی شوې...
هغې ډیر وژړلې، جنګ یې راسره وکړ...
رانه خفه شوه او په قهر یې وویل...
زه ستا څخه نفرت کوم.
اووف خدایه...!!!
د لومړي ځل لپاره مې د نفرت په کلمه کې...
بې انتها مینه ولیدله.

***

موبایل مې لاس کې ریږدي...
ستا نمره راته عجیبه کیف راکوي...
میسج مې ولیکه...
("ډېره مې یاد یږې")
خود لیږلو بټن راته هغه پیغور راکوي...
چې د تلو پر ورځ مو د هرڅه ختمولو چیغې ووهلې.

***

کله مې چې نږی ته سترګې خلاصې کړې...
یو راته په غوږ کې وویل...
د عمر تر پایه به درسره یم .
په خندا شوم، ومې ویل ته څوک یې...؟؟؟
ویې ویل: غم او یوازیتوب .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قهوې تریخ غړپ...

ستا د خوارو خیالونو نشي راڅخه هیرولی...

د سګرېټ تور دود ستا سپینه څیره نشي رانه پټولی...

د یوازیتوب دروند خوف ستا نازکه موسکا...

نه شي راڅخه اخیستلی...

اخر ستا د هیرولو لپاره زه ولې ناکامه هڅې کوم...؟؟؟

***



نه وم...

ډېر وخت نه وم...

ما ویل زه به هم ستا په څېر...

ددې ځای پرېښودلو سره هر څه هېر کړم...

نه، نه کیږي...

راغلم...

بیا راغلم...

ته نه یې خو...

د یادونو کنډوالې شته.

***

ستا سترګې ستا لپاره د لیدو وسیله...

او ستا سترګې...

زما لپاره...

د ژوند کولو وسیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې ماشوم وم . . .

د داستان دردونکې صحنې مې ډيرې خوښې وې . . .

نن چې زما ژوند خپله يو داستان دی . . .

لا هم هغه عادت راسره دی . . .

په کومه ورځ چې ډېر درپسې خفه يم . . .

ډير ځوريږم . . .

په هغه ورځ له ژوند څخه ډير خوند اخلم.

***

زړه مې په دې خاطر درد نه کوي . . .

چې تا نه لرم . . .

په دې خاطر ژاړم چې . . .

تا لرم خو بيا هم زما نه يې.

***

مينه لا شته . . .

يادونه دې هم شته . . .

آ انتظار خوږې شيبې هم هغسې خوږې دي . . .

زما پټې ژړا لا چا نه ده اوريدلې . . .

ستا رازونه مې يوازې ستورو ته ويلي . . .

هر څه په خپل ځای دي . . .

بس يوازې ته نه يې . . .

ته مې ډيره ياديږې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



له خدایه...

خپل مرګ نه غواړم...!!!

له مرګ سره مې په زړه کې...

ستا مینه هم مري.

***

د خدای د عبادت سپېڅلتیا...

د روژې د مازدیګري سپېڅلتیا...

د هغې د سترګو سپېڅلتیا...

د ماشوم د موسکا سپېڅلتیا...

او د یو چا په یاد کې...

د دردونو د سکوت سپېڅلتیا...

ژوند بس همدغه دی.

***

تقدیر...!!!

هغه رنګین یوازیتوب...

هم راڅخه واخیست...

چې تر سهاره به مې...

سترګې او شونډې...

د مبایل سکرین ته...

مسکۍ وې...

او د هغې میسجونه مې ځوابول.



(c) ketabton.com: The Digital Library





یو څوک د سګریټ په لوګي کې راښکاره شي...
بې وسه او دردونکې اروا یې راته وایي...
زما ګرانه...!!!
ستا له سرو ستر ګو لوګی شم...
ته ولی ما نه شې هېرولی ...؟؟؟
اخر مور ولې دومره بې وسه یو...؟؟؟
او بیا ورو ورو لوګی هغه اسمانونو ته فنا شي...
زه هم د خپلې تنهایي او بې وسۍ په مټ...
یوه سړه ساه وباسم ...
او د سګریټ فلټر ځمکې ته وغورځوم.

***

د ګل څانګه یې پرې کړه...
یوه یوه پاڼه یې وشکوله...
او له اغزیو ډک ډنډر یې...
په ځمکه وغورځاوو.
هغې په نا فهمۍ کې...
زما د یوازیتوب او دردونو...
یو ژوندی انځور جوړ کړ.

***

سګریټ هم غماز دی...
د غم کمولو په بدل کې مې...
ژوند خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فیسبوک د پاڼې...

په یوه وړه کړکۍ کې...

د چا خبرو ته دومره ځیر یم...

لکه زما د ژوند...

ټولې هیلې چې...

تر همدې کړکۍ...

را محدودې شوې وې...

***

ستا د نه راتلو اوږد انتظار مې...

په سړه ساه...

ترخو اوښکو...

او دردناکه موسکا...

پای ته...

ورسوه.

***



ته دې یو ځل د خپلو سترګو د ښکلا انداز...

پخپله وګوره...!!!

او بیا زما زړه ته د صبر اوردې قصیدې ولیکه...

کله چې ستا سترګې پیژنم...

د صبر په نامه هیڅ شی نه پیژنم...

زه مې د ژوند هره شیبه...

ستا د لیدو لپاره بې صبره تیروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کمپیوټر په سکرین د هغې عکس ته ګورم...

سترګې یې راته وایي...

ډیر مه راته ګوره...!!

هسې نه خدای دې هیر شي او ګناهګار شې...

زه موسکی شوم.

هغه لیونۍ نه ده خبره...!!!

چې یو څوک یې د پاڼو په شمیرلو...

د خدای د نعمتونو...

ذکر کوي.

***

د هغې میسج راغی...!!!

لیکلي یې وو...

"زړګیه شپه په خیر، سترګې پټې کړه او ویده شه ".

ما هم سترګې پټې کړې...

مبایل مې په زړه پسې ټینګ ونیوه...

او ویده شوم.

***

ستا تګ یوازې هغه قدمونه نه وو...

چې ته یې فنا کړې...

بلکې...!!!!

زما د ارزوګانو یوه رنګینه نړۍ یې هم...

فنا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نمجنو سترګو يې اوښکې توی شوې...

زما په سينه يې سر کېښود...

ورو يې وويل...

که مور پښتانه نه وی زه به اوس ستا وم...

***

ژوند، لکه هغه...

لا ورسره لاس و ګرېوان يم...

او هغه لکه زما روح...

ژوند مې ورپورې...

تړلی.

څه عجيبه سلسله...!!!

***



زما د زړه يو انځور ...!!!

تياره، خاموشه او دردونکی ماحول...

يو څو بې وسه ارزوګانې...

بې شميره اهونه...

بې روحه انځورونه...

او هلته په يوه کونج کې...

ستا د وفا...

ستا د پاکې مينې...

او ستا د ښکلو سترګو...

يوه بې بها خزانه...

(c) ketabton.com: The Digital Library





هی ګرانې...!!!

دوه سپین لاسونه دې...

زما تر غاړې تاوو کړه...

او د زړه د تل خبره راته وکړه...

زه به دې په ویښتو کې ګوتې بندې کړم...

او د زړه د تل خبره به درته وکړم...

ته زما د مینې په غرور کې خپل ژوند ګوره...

او زه به...

ستا په ښکلو سترګو کې...

زما ټول عمر.

***

مور وایو مینه ژوند دی...

خو بیا...

مینه له خلکو پټه ساتو...

مور هغه څه له خلکو څخه پټ ساتو..

چې ژوند یې بولو...

د مینې او ژوند فلسفه هم څه عجیبه ده.

***

همدا پټه دنیا او ورک نوم مې ښه دی.

د زړه دردونه همدلته پټ ښه دي.

نور مې ددې بې نومه ژوند کیسه چا ته نه کوم.

هسې نه څوک مې د زړه په ځړیکو پسې وخاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ژوند هغه شيبه...
هم تيره شوه...
چې د هغې غږ مې واوريد...
او هغه خوږه شيبه يې هم تيره شوه...
چې هغه مې په انتظار کې بې قراره وليده...
ژونده...!!!
کاشکې دې ځينې شيبې لکه د سينما فلم...
له سره کتل کيدای.
ما به په بيا بيا کتلو سره...
د سترې ژوند سترېيا ورکوله.

***

که ستا سترګې...
زما په نه شتون کې اوښکې تويوي...
دا يې حق دی.
خو ای زما ليونۍ...!!!
کله چې دې په خوا کې يم...
بيا دې هم سترګې سرې شي...
او په سينه مې اوښکې توی کړې...
زما ګرانې...!!!
ستا سپيڅلې مينې ته...
د نړۍ هيڅ سپيڅلتيا نه رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه د ننه ډیر دردونه راسره وي ..

خو بیا هم وایم یوازې یم

***

یوازیتوب هم عجیبه حالت وي ...

زړه دومره نری کړي چې په تیزه خندا هم درد کوي ...

***

هغه توره وریځ چې په اسمانونو کې ده...

یوه ټوټه یې زما په زړه کې هم شته.

زما زړه هم لکه د ژمي مازدیګر...

تیاره او خاموشه دی.

***

د بس په تمځای کې...

د سرو ویښتانو جنۍ او دنګ هلک...

یو بل ښکلول.

ما هم په ډاډه زړه...

د خپل یوازیتوب دا ترخه خاطره...

د یاداښتونو په کتابچه کې...

ولیکله.

***

د پیړۍ تر ټولو لنډ او دردونکی داستان...!!!

یو څوک بې انتها مینه درسره کوي...

خو ژوند نه درسره کوي .



(c) ketabton.com: The Digital Library





د هغې د سترګو سپين، سره شوي...
زما سترګې هم نمجنې...
د ژمي ورځ يخه ، تياره او باراني ده...
سړکونه هم خالي او خاموشه...
خدای خبر ولې...
نن يو ځل بيا...
زه ، هغه او ټول کاينات خفه ښکارو.

***

اوس مې هم ياد دي...
تا به ويل:
زه دومره مينه غواړم چې...
يو بل پسې ليوني شو...
نن د يو بل ليوني يو...
خو...!!!
د پخوا په څير...
لا هم د يو بل نه يو.

***

زه دا نه وايم چې مور د يو بل نه يو...
خو، دا ضرور وايم چې...
ته ولې هم زما يې او هم بې ما يې ...
او زه ولې هم ستا يم، او هم بې تا يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هغه شوخ باد...

چې ستا له اوربل سره لوبې کوي...

زما د خیالي ارزوګانو...

یو ژوندی انځور دی.

***

د مکتب د وخت کتابچه ګورم...

دوه توري او ښکلې سترګې...

یو په تیر پېیلي زړه...

لاندې څاڅکي څاڅکي وینې...

او د رحمان بابا دوه بیتونه..

اوس پوه شوم...

هغه وخت...

چې لا شاګرد هم وم...

ستا د سپیڅلې مینې په لټون کې وم.

***

هغه مې په خوا کې نشته...

خو ...!!!

په ژوند کې یې لرم ...

هغه زما د روح برخه لري...

په سترګو یې نه وینم...

خو په شتون یې...

ژوند کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه انځور ګر وای...

ما به د خپل یوازیتوب...

وچو شونډو...

سړو ساوو...

او نمجنو سترګو...

یو تور ، سپین انځور...

د چا په یاد کې...

ایستلی وو.

***



زه ډک زړه ګرځم...

زما روح تیاره او خاموشه دی...

د ژمي اسمان هم ډک زړه ګرځي...

او د ژمي ورځ زما روح ته ورته ده...

تیاره او خاموشه.

زه خو په هغې پسې خفه یم...

چې الاهي نظام به په چا پسې خفه وي...؟؟؟

***

زما د ژوند درې هیلې...!!!

یوه دا چې ته زما شې...

بله دا چې زه ستا شم...

او دریمه دا چې زه او ته د یو بل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په زړه کې مې د هغې یاد د اصل غمي په څېر...
ورځ تر بلې نور هم سپېڅلی کیږي...
او د ساتلو ارزښت یې ډیریږي...
هې زما لیونۍ...!!!
ستا د هېرولو توان مې له لاسه ورکړی...
لکه په مینه کې چې دې مرسته وکړه...
په هیرولو کې دې هم...
مرسته غواړم .

***

زموږ د مینې حدود نشته...
ځکه مې ورته وویل چې...
ته ما نشې هیرولی...
خو د هغې غرور زموږ مینې ته حدود وټاکل...
او زما د هیرولو ژمنه یې وکړه ...!!!

***

بُخل مې د مینې د قوت لپاره تر ټولو ښه اصل باله...
خو داسې هم نه...
چې ته دې نه یې...
مګر که مې د خپلې ستړیا او د عذاب خلاصېدو لپاره...
د خوب ښاپېرۍ په غېږ کې نیسي...
ته دې بخیله شي او ستا یاد مې دې خوب ته پرې نږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ملګری لرم...!!!

نور که وو ایم چې د نړۍ تر ټولو بدبخته یم...

کومه سهوه نه کوم...

همدا یو ملګري باندې مې شکر کاږم...

زما د هر عذاب نه خبر دی...

خپل تقدیر دې راسره داسې ظلم نه کوي.

ما ته دې دا ډار نه راکوي...

ته یې رانه واخیستې...

دی دې رانه نه اخلي.

***

زما سپېڅلې مینې...!!!

ته د حوس سمندر ته مه لاهو کیږه...

ددې سمندر په تل کې د نفرت نهنګان...

او په ساحلونو کې د پښیمانۍ لپوان ګرځي...

مخکې له دې چې بې ځوا که شې...

په خپلې سپیڅلتیا دې ایمان راوړه...

او ټوله نړۍ خپله کړه.

***

ستا د وصال ورځ که معلومه وای...

ما به له تنهایي ، غم ، درد او خیالونو سره سره...

د امیدونو په جنت کې ژوند کاوو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر به تیر شوی وي ...

بلا زړونه به د خپلې نا کامې مينې خړو اوبو وړي وي...

زمانې به د نفرتونو لپاره ښه پراخ بازار موندلی وي...

د پاکو زړونو هره ارزو به د بې وسۍ توري بلا...

په بې رحمۍ خوړلې وي...

خو د ژوند په هر بدلون کې به بیا هم...

ما خپله مینه صادقه ساتلې وي...

او له نفرتونو ډ که نړۍ به...

زما د جنون په انتهاکې...

داسې حیرانه وي...

لکه...!!!

زه چې ستا د سترګو معصومیت ته حیران یم...

***



هغې مې په سینه سر کیښود...

جوړه لاسونه یې تر غاړې را تاوو کړل...

هغې نور هیڅ ونه ویل...

خو په سړه ساه یې دومره پوه کړم...

چې ...!!!

نوره مې خپله که...

او ټول عمر مې له سینې څخه مه بیلوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میز په سر مې د افغانستان بیرغ...

او د کمپیوټر په سکرین د هغې عکس...

له دواړو سره ډیره مینه لرم...!!!

خو د قسمت تر ټولو ترخه حادثه...

هغه دا چې...!!!

نه پوهیږم ولې مې له دواړو سره نصیب نشته...؟؟؟

***

اندېښنې مې هغه وخت وپېژندې...

کله چې ته لاړې...!!!

بې خوبي مې هغه وخت و پیژنده...

کله مې چې خوب ته اړتیا وه...

او ته نه وې.

***

ستا ضد...!!!

زما لېونتوب...!!!

پر مونږ اختر محرم کړ ...

ما ویل ته به مبارکي را کړې...

او ستا ضد له ما لومړۍ مبارکي غواړي.

***



زما د زړه په وړلو کې یې یوه ګړۍ ځنډ هم ونه کړ...

خو د هغې په خپلولو کې...

آ! دی یو عمر تیر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زړه چې ستا له مینې ډك پروت دی ...

ما د روژې لورې او تندې ته نه ورکوي...

زه ستا شتون د خپل رب مهرباني بولم...

او په دې شکرونو د عبادت تارونه اوږدوم...

زه د یوه سپیڅلي معبود له سپیڅلې مینې سره...

خپله مینه هم لمانځم...!!!

زه د هغې د ښکلا په زره زره کې...

د خپل خالق ټول حکمتونه وینم ...

او په پوره ایماندار ...

د روژې له میاشتني عبادت څخه...

خوند اخلم.

***

د اختر نژدې کېدل راته د درد عجیبه کیفیت راکوي...

تېر اختر مو د اختر د تېرولو پلانونه ګډ وو...

خو سږ کال ستا د تلو وروسته...

ستا د یوازې اختر تصور راسره دی.

***

کله کله ژوند د هغه چا نوم هم کیدای شي...

د چا له لاسه چې...

شپه او ورځ...

ژړېدلی یې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان د خپل ځان لپاره عذابونه ډېر دي...

تر ټولو ستر عذاب یې دا دی...!!!

چې له چا سره تر ټولو ډېره مینه کوي...

پر هماغه یې شک پیدا شي.

***

نه مې غوښتل چې څوک مې کمزورتیا شي...

نه مې غوښتل چې د چا کمزورتیا شم...

وشول ، زه که په ملا مات شوم...

ته هم روغه نه یې...

دواړه دومره کمزروي شو...

چې پرته له یو بله ژوند کول راته مانا نه لري.

***

د پښتنې پېغلې د مینې اظهار...!!!

چې په حیا...

بې وسۍ...

نا امید ...

وړوکي زړه...

ټیټ نظر...

او ډ کو سترګو...

خپل جانان ته...

په کمزوري غږ وایي...!!!

(زه درباندي ګرانه یم )...؟؟؟



(c) ketabton.com: The Digital Library





روژه سپېڅلې ده...

عبادات سپیڅلي وي...

د خدای رحمتونه سپېڅلي دي...

ستا مینه سپېڅلې ده...

ستا یادونه سپېڅلي دي...

بختور یم...!!!

ژوند مې سپېڅلی دی.

***

د هغې بیلتون مې زړه ته دومره ګران پریوتی...

ته به وا یې...

زړه مې د کایناتو تر ټولو درنه او توره کلا ده...

کله کله خو مې خپل روح هم ویره ورڅخه کوي...

او د وتلو لار غواړي.

***

تنهایي او خاموشي مې زړه ډېر خوړلی...

زړه مې د کایناتو له هرې خاموشۍ څخه ویره لري...

د رخصتۍ په ورځ د ښار کوڅې داسې راته ښکاري...

لکه ټول کاینات چې بې جانانه شوي وي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





ترهغو ژوند کوم...

ترڅو چې تا لرم...

ترهغو مینه کوم...

ترڅو چې ساه لرم...

ترهغو دې یاده ساتم...

ترڅو چې زړه لرم ..

ترهغو دې غواړم...

ترڅو چې روح لرم...

نو...

ای زما سپیڅلې مینې...!!!

ته خبره یې ...؟؟؟

دلته د یو چا ژوند ستا تر ژونده محدود دی.

***

هغې ته دومره ووایه...!!!

هغه دې ډیر یادوي...

هغې ته زما د یوازیتوب کیسې مه کوه...

خو دا ورته ووایه...!!!

هغه دې له یادونو او غمونو سره...

نوې نړۍ جوړه کړې...

او ژوند په کې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا لیونی مینه...

زما لیونی زړه...

او زموږ لیونی غوښتنې...

هر څه لیوني...!!!

خو بیا هم په پوره ایماندار ورته ژمن یو.

***

وخت هم زما په څېر پر تا مین دی...

تا ته یې د سکون تالی درکړې...

خو زه یې تر قیامته له ستونې را ځوړند کړم.

***



زړه چې مې...

ستا په یاد کې درد کوي...

بیا دې انځور ټینګ زړه پورې نیسم ...

زړه مې ارام شي.

خو...!!!

له سترګو سره دا لوبه نه شم کولی...

ځکه اوښکې مې...

ستا ښکلی انځور خرابوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې مې په سینه سر کیښود...
او اوښکې یې زما ګریوان ته توی کړې...
هغې د خپلې مینې ټول دردونه...
زما د زړه تل ته ورسول...
نن مې د یوې پښتنې پیغلې...
بې انتها بې وسي ولیدله.

***



پرون دې ویل : (زړه مې تا وړی) ...
او نن وایې: زړه مې درد درپسې کوي...
ایې زما د مینې لیونۍ...!!!
چې زړه دې ما وړی...
بیا یې درد څنګه احساسوې...؟؟؟

***

ژوند د ضرورتونو مجموعه ده...
په ژوند کې هر څه ته اړتیا شته...
خو زه...!!!
ستا مینې ته بې انتها ډېره اړتیا لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ژوند لکه د هغې سترګې مړاوې شوې...

ځکه زما د ژوند کیسه...

د هغې له مړاوو سترګو پیل شوې.

***

کله کله انسان نه مړ وي او نه ژوندی...

بلکې په دریم حالت کې وي...

هغه یوازیتوب دی.

هغه یوازیتوب...!!!

چې د چا سترګې دې نه ژوند ته پرېږدي...

نه مرګ ته.

***

هرڅه خپل مقابل لري...

زما ژړا که ستا دخندا له وجې وي...

خبر زه دې ټول عمر وژاړم.

***

ستا له لېدلو ډېر څه راوړم...

خو څه چې مې ډېر ځوروي...

ستا هغه خبرې چې...

ستا ښکلې غټې ګردې سترګې...

ورسره همغږې نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاخندا مې ډېره خوښه ده...

خو هغه خندا نه...!!!

چې ستا پرزړه رانه هغه ټول غمونه پټوي...

مګر هغه خندا...!!!

کوم چې زما له مینې درته جوړه شوې....

***

ستا سره مینه زما مجبوري Ïå...

زمونږ بیلتون د تقدیر پریکړه ده...

یوازیتوب مو خپل نصیب دی...

هر څه زما او ستا تر وس هاخوا خبرې دي...

راځه! نور به هیڅ ګیله نه کووو...

بس سپیڅلې مینه به کوو.

***



داسې مینه هم امکان لري چې...

په نه لیدو پیل شي...

په فاصلو دوام وکړي...

په خبرو اورده شي...

په یادونو پخه شي...

په وفادار ژوند پاتې شي...

په ستونزو وپالل شي...

په اسویلیو درنه شي...

او په خپل سپیڅلتوب سپیڅلې پاتې شي...

او د ژوند تر اوردو اورده شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلې مینه فاصلې نه پېژني...
او دا د انسان په واک کې نه وي
ځکه...!!!
د سپېڅلې مینې کنترول د زړه په اختیار کې وي.

***

که قسم وکړم...
چې ټوله زندګي مې په غېږ کې نېولې وه...
غلط نه وایم ....
ځکه...!!!
چې هغه وخت مې یوازې او یوازې ته زندګي وې.

***



له هغه وروسته چې تا پېژنم...
تنهایي هم پېژنم...
د زړه په تل کې نرۍ څرېکې...
او د خپلې بې وسۍ انتها هم پېژنم...
د خیالي نړۍ جنتي ژوند مې هم ولید...
بس...!!!
سپېڅلې مینې مې ژوند ته...
یوه رنګینه خاموشي ور کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ماښام هره لمحه...

ما ته زما د بې هنره ژوند پېغور راکوي...

مړ به شم مړ...!!!

ته مې ولې و باېلودې...؟؟؟

***

د ژوند هره برخه مې و ازمايله...

هر کار مې په خپل همت وکړ...

که به لوېدمه...!!!

دوه وارې به مې هوډ قوي کېده...

خو...!!!

ته مې چې وبايللې...

څو وارې مې ځان و بايلود...

ژوند راته ستا د بايللو له وجې...

ډېر بې ارزښته ښکاري.



په ژوند کې هر څه مرګ لري...

احساس...

خيال ...

هيلې او ارزګانې...

باور...

اعتبار...

او حتا دوستي .

خو...!!!

يوازې پاکه او سپېڅلې مينه ده...

چې مرګ نه مني.

***

مرور يو...

تنګ نېولي يو...

زه خو دې ته دِېر ځورېږم...

چې ولې را باندې غږ نه کوې...!!!

جانه !

ته که هم داسې يې...

په څه بهانه و وايه...!!!

زه خامخا در ته غږ کوم...



(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو چا لپاره شپه رڼول...

د يو چا لپاره ټول ورځني كارونه پرېښودل...

د يو چا لپاره له ژونده زړه تورېدل.

دا هر څه مې په خپل عادي حالت كې نه شو منلی...

خو اوس چې همداسې يم...!!!

محبت دې هر څه برداشت هم راكړ.

***



د بهر په غاړه يوازې كښېنئ...!!!

بيا د يوازيتوب خوند وګورئ...!!!

كه لا زيات خوند غواړئ...!!!

هغه څوک در ياد كړئ چې...!!!

په ژوند كې مو د هغې په ياد كې...

كله هم ستړګې لمدې شوې وي.

***

ملګري وايي...

ډير غم مه كوه ناروغ به شې...

ملګري مې په ملګرتيا كې مخلص دي...

خو...!!!

زه كه د هغې په ياد كې غم ونه كړم...

ځان د هغې په مينه كې مخلص نه احساسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شپه...!!!

چې ستا تر شونډو دوه ګوتې نږدې وم...

هم مې یادیدلې.

نن چې ستا له سترګو ډیر لیرې یم...

هم دې یادوم.

زما او ستا مینه په فاصلو نه...

بلکې...!!!

په سپیڅلو ارادو تړلې.

زما او ستا مینه فاصلې نه پیژني...

موږ یو بل د خپل روح حصه ګڼلې...

او بس یوازې سپیڅلې مینه کوو.

***

نن د خبرو لپاره څه نه لرم...

خو د ژړا لپاره ډک زړه...!!!

کاشکې خو ژړا هم لیکل کیدای شوه...

زه ډاډه یم چې ډیرو به راسره ژړلي وو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلې مينې ته مې...

بدرنګه زمانه داسې پېغورونه ورکوي...!!!

ته به وايې...

دا زړه مې بيخي د ښکلو احساساتو حق نه لري.

تر څو چې مې سپېڅلې مينه په خوا کې وي...!!!

زه به مې خپلو هيلو ته...

په کلک هوډ د خوښيو سينګار ورکوم.

او خپله مينه به پالم.

***



مات يم...!!!

ډېر مات يم...!!!

پر هندارې زړه مې...

د خپل سپېڅلتيا په خاطر...

له هر لورې بلا کانې ووربدل.

مات وجود مې...

څومره منفي ذهنيت را کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخه او بُخل...!!!

دوه هغه ځوريدلي حالتونه دي...

چې د محبت قدر يو بل ته ور پيژني...

ما چې کله هم له تا نه د چا په اړه پوښتنې کولې...!!!

تا بايد زما هغه حالت درک کړی و...

کوم چې ستا محبت مې زړه ته راوړی و.

ددې پر ځای چې پر ما د شکمن تور ولګوې...

بايد زما د مينې قدر دې کړی وی.

***

نه مې پيژندې...!!!

له نامه سره دې هم اشنا نه وم...

ډېر په اسانه مې زړه را خپله کړې...

باور لرم چې دا خپلولي په داسې تار تړل شوې...!!!

چې د پردي کېدلو نوم سره مې...

هم زړه åÑç اره کيږي.

***

له تا وروسته مې...

زندګي يو را کړل شوی کار دی...

بايد ژر ژر يې پوره کړم ...



(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمپوټر او له موبایل څخه مې...
ستا هر څه رنګ کړل.
هر څه راته ډېر اسانه وو...
خو...!!!
د زړه او الکتروني ماشینونو تر منځ...
د احساس تفاوت دی.....
کاشکې مې له زړه نه...
د ماشینونو په څېر د خپلې مجبورۍ په خاطر...
په اسانه رنګولی شوی.

***

ټول خلک...
زما د سترګو سورخي بې خوبي ګڼي...
خو زما په خپل سپیڅلي محبت یقین دی...
چې ته یې داسې نه ګڼې...
ته له حقیقته خبره یې...!!!

***

محبت څومره ساه ګانې در کړي...
میاشتې وشوې چې...!!!
هره شپه دې په خپل زړه کې وژنم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې مې ستا د هره ورځ وژلو سره...

د ژوند ډېرې موقعې ووژلې.

اوس پوهيږم...!!!

ته نه مرې...

ته نه وژل کيږي...

ته د خدای له ذاته محبت يې...

خو زه ستا په مرګ روږدي يم...

هره ورځ به دې وژنم...

ترڅو خپله له درده ووژل شم.

***

زما او ستا د مينې اثر په هر څه کې ولې وينم ؟

زه له تا خفه يم خو له ما بيا د ژوند هره ورځ خفه ده...

هيڅ شی هم راته غاړه نه راکوي...

هيڅ شی راباندې سکون نه لوروي...

خوب چې د سترې ژوند ښه ملګری مې دی...

هغه هم همداسې سترى مې پريږدي.

***

د زلميتوب ګرمايش مې...

د محبت لپاره سل لارې لټولې...

خو...!!!

ترڅو مې چې محبت پيژنده...

نو محبت زما زندګي را خوړلې وه .



(c) ketabton.com: The Digital Library





هره خبره مې لولي...!!!

هرې خبرې سره ستا د زړه درد هم محسوسولی شم...

خو ای زما په ژوند د سپرلې تېرې شوې سیلۍ...!!!

په خپله مینه قسم کوم...

که مې ستا ځوربدل زړه کې ویې.

نه پوهیږم...!!!

زما د زړه د مینې جذبې ولې زما خاموشي وژني ؟

ولې مې دې ته مجبوروي...؟؟؟

چې ولیکم ، ولیکم ، ولیکم ...!!!

بس هره خبره ستا په نامه ولیکم.

***

دا څو ورځې ښه نه وو...

په خپل حالتونو مو جنګ کوه...

پرون دې ویلې چې...!!!

سهر راجیګیږم ، شونډې مې پټري نیسي...

ویني کیږي.

زه پوهېدم ته مې هره شپه په خپل زړه کې وژنې...

خو چې کله بیا راته د شونډو د پټریو او وینې کېدو خبرې کوې...

ستا په زړه کې له مرګ وروسته په خپل ژوند هم وژل کیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library





هغه مسکۍ شي...

سره ساه وباسي...

او ووايي...

ګرانه کاشکې...!!!

له کاشکې سره يې سترګې ډکې شي...

رنګ يې سور واوړي...

او زما په اوره سر کيږدي.

زه پوهيږم موږ يو بل ډېر غواړو خو...!!!

کاشکې د يو بل کيدای شوی.

***

څومره تفاوت وو...!!!

زما مينه لکه ستا د تليفون شمېره...

تل به مې په زړه ليکلې وي.

ستا مينه لکه ستا د موبايل کرېډت...

چې په ختمېدلو يې هرڅه ختم شول.

***

زما او ستا مرورتيا...!!!

هم په نامعلومو علتونو وي.

لکه زمونږ اړيکه چې ناڅرګنده ده...

کله مې ملګری کړې...!!!

کله له ملګري نه هم نژدې شم.

او کله بيا درته بيخي ناپيژانده اوسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له مودو وروسته دې سترګې وینم....

له مودو وروسته راته...

ستا په مخکې خپله خاموشي د زړه سکون دی...

ډارېږم...!!!

هسې نه زړه مې...

د هغو سرګردانو مودو په اړه ګویا شي...

کومې چې ستا نه شتون راکړې وي.

ستا سترګې خندنۍ لېدل غواړم...

لکه زما د زړه په څېر پرېشانه نه.

***

تنهایي او خاموشي مې...

زړه ډېر خوړلی...

زړه مې د کایناتو له هرې خاموشۍ څخه...

ویره لري...

د رخصتۍ په ورځ...

د ښار کوڅې داسې راته ښکاري...!!!

لکه ټول کاینات چې بې جانانه شوي وي.

***

زه دې په یادونو د خپل یوازیتوب عمر رالنډوم ...

هې زما د زړه سره...!!!

ته راشه...!!!

او په راتګ دې زما یوازیتوب ووژنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووووف خدایه ...!!!

زه چې خپله مینه په خوب کې ووینم...

سهار ته مې...

له خوشحالۍ هغه خوب لا هیر وي ...

زما ګرانې ته مې ولې د زړه رګ رګ ته ننوتې یې...؟؟؟

***

خیاله...!!!

نور بس دی...

نور دې هسکو څوکو ته نه خیژم...

نور مې خپلې سپیڅلې مینې ته خواست کوم...

چې راشي...

او له بې حسې نړۍ مې خلاص کړي.

***

زړه مې ډېر ځوریږي...!!!

تا سره هغه د احساس سترګې نشته...

چې یې ووینې...

خو ای د لیونۍ خیاله...!!!

ته ځینې لیوني لفظونه را کړه...

چې د خاموشۍ په لېونیو لمحو کې یې...

له ځانه سره په تکرار ووایمه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ټول مات مات یم...

خو نه پوهیږم...!!!

ولې د خپلې مینې زور او سپیڅلتیا...

تر هر بل وخت ډېر احساسوم ...

ایا نن کومه ځانګړې ورځ ده ...؟؟؟

***

نن د هغې مینې...

زما په زړه کې دومره ژورې ځړیکې جوړې کړي...!!!

ته به وایې...

په زړه مې د هغې د یادونو سونامي راغلې.

***

د زړه او نفرت اړیکې...

لکه تیل او اوبه نه سره ګډیږي.

خو مینه او زړه...

لکه سپنج او اوبه یو بل جزبوي.

راځئ...!!!

د نرم زړه لپاره نرمه، ګرمه او معصومه مینه وټاکو.

***



(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډېرو خلکو په مینځ کې تنها یم...

وخت مې د ژوند ورځې ریبي...

خاموشي مې د لیونتوب رېښې شنې کوي...

ملګري مې وايي...!!!

مسته موسیقي اوره...

خو ای رنګ بدلې...!

له تا وروسته مې طبیعت ته...

له کومه مستي راشي...؟؟؟

***

زه مې د ژوند درونډ بار...

بې له هغې نه شم پورته کولی...

زه د ژوند ناخوالو نه یم بې وسه کړی...

خو د هغې درونډ غم ضرور بې وسه کړی یم.

***

دا ستا تګ یوازي تګ نه وو...

د خوشحالیو تباهي ...

د امیدونو قتل عام...

او د یوه ناسور زړه په پرهر د مالګو باران وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خیالونو هم د زمانې رنګ اخیستی...

کله کله مې د خپلې سپېڅلې مینې په هکله...

شرارت ته اړ باسي.

هغه چې خورې خبرې راته کوي...!!!

زړه مې غواړي چې...

خوږې شونډې یې ښکول کړم.

***

ما یوازې د خپل خیال په هغو شیبو...

د ژوند نوم ایښی...

په کومو کې چې زه ستا په خوا کې یم.

او ته مې په پستو ګوتو...

د خوشحالۍ اوښکې را پاکوې.

***

ستا بیلتون...

یوازې زما د یوازیتوب سبب نه دی ګرزیدلی ...

بلکې...!!!

زما د شونډو په پرهرونو...

د اوښکو تروه بارانونه هم وروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





پوه یم...!!!

ته به هم په تنهایۍ کې هره خبره اورې.

لکه زمونږ د مینې هغه لومړۍ شپږ میاشتې...

چې په خاموشۍ کې مو یو بل ته بلا خبرې کړې وې...

تا به هم په غلا راکتل...

او ما به هم له قصده سترګې جنګولې...

ووایه...!!!

ټولې فضا ته ووایه...!!!

خاموشي د مینې خوږه ژبه ده.

***

دا ځل له انځورونو خبرې نه باسم...

دا ځل درسره یو لوړه کوم چې...!!!

زما هره خبره چې....

د خاموشۍ له پای څخه را پورته کیږي...

ستا د هغې سپیڅلې مینې په خاطر به وي...

چې تا د خپلې مجبور له وجې خاموشه ساتلې.

***

!!!...ãæ ÛæÑ

جوړ وم...!!!

لکه عادي انسان مې خپل ټول کارونه کول...

خو...!!!

له کومه وخته چې مې ستا د وجود...

خوشبو روح ته ښکته شوې...

لیونی یم لیونتوب کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه وايي...؟؟؟
کله دې هم له خپل زړه څخه پوښتنې وکړې...
چې له تا پرته زه ......
آ خپل ژوند به بندو د پوالونو کې څنګه اوسم ......
زړه مې په دې ډېـــــــر ځورېږي .....
چې ته مې نه شې احساسولی ....
که دې احساسولم نو يو ځل به دې زما پوښتنه کړې وه ...

***

زه د ژوند په هغه ازمېښت کې...
لا تر اوسه ښکېل پاتې يم...
چې زړه مې ستا پر کمڅيو...
لاسونو او پښې مې د رسمونو په زنځېرونو...
تړل شوي دي.

***

زه د هغه درد لپاره چې تا رايادوي...
تر زړو هغو خوښيو تيريم...
چې ستا يادونه مې له ذهنه وباسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د وجود په خوشبويۍ روږدي يم...

که يې محسوس نه کړم...

د زړه رګونه مې په لړزان راځي....

وه نرګسې...!!!

زما او ستا مينه له زړونو نه...

زمونږ په رګونو کې خوره شوې...

مونږ بايد د يو بل وجود ته وږمه شو...

پټ اوسو...!!!

خاموش اوسو...!!!

نه...!!!

ګوره زمونږ ترمنځ رابطه بې نومه بنه ده...

که مو نوم ورکړ...

د رسمونو په چړو مو زړونه حلالوي..

زه خاموش يم...

ته هم په خوله لاس کيږده.

***

د زړه د سکون لپاره...

له سترګې ژوند سره سړه ساه...

له سترګې مينې سره خوږه خوله...

او له سترګي بيلتون سره اوږد وصال.



(c) ketabton.com: The Digital Library





هغه فکر ...

خیال...

او احساس چې...

ته نه یې په کې.

زما لپاره زما د ژوند بې ارزښته شیبې دي.

***

زه د یوه ستر انسان له فلسفي مزاج سره...

دومره مینه لرم.....

لکه پیغمبر (Õ) چې یې له خپلې عقیدې سره لري.

لکه پاک زړه چې یې له سپیڅلي محبوب سره لري.

لکه همدا فلسفې چې یې له خپل فکر سره لري.

***

ستا له یاده ایستل دومره دردناک دي...

لکه.!!!

د یتیم ماشوم له سره چې یو یو ویښته باسې.

***

ستا انظار وو...

چې زما زړه ته یې د زغم ځواک ورکړ...

زما د زړه زغم وو...

چې ستا مینې ته یې سپیڅلتیا ورکړه...

او ستا سپیڅلې مینه وه چې...

زما ژوند ته یې رنګینې شیبې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زړه د راز ساتلو ځای...
او د درد زغم ځای نه درلودی...
ایا مینه به همداسې درنه او سپیڅلې پاتې وی...؟؟؟

***

له ژونده به ستړي شو...
د ژوند له خونده به هم ستړي شو...
بیا به د خپلې عقیدې په مرسته...
د نوي ژوند په لټه کې اوږده اوږده فکرونه کوو...
راځئ...!!!
خپلې عقیدې سر له اوسه مضبوطې کړو ..

***



خلک هسې وایي...!!!
جانان زړه وړي ...
زما جانان...!!!
هغه خو له ما هر څه وړي...
حتا زما د فکر او خیال هغه ځواک چې...
ما به د نړۍ په هیڅ...
قیمت نه وو پلورلی.

***

هغه تحفه چې زړه ورباندې لیکلی وي...
ما ته یې تر مادي ارزښت...
معنوي ارزښت زر ځله زیات دی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا ليونۍ مينه...

زما ليونی زړه...

او زموږ ليونۍ غوښتنې.

هر څه ليوني...!!!

خو بيا هم په پوره ايماندار ورته ژمن يو ...

***

زه د سمندر او طوفان له وحشي څپو څخه ويره نه لرم...

خو د هغې په سترګو کې څاڅکي اوښکې مې...

هم زړه دردوي او هم مې...

ÇæÑç نا ارامه کوي.

***

چا چې چا ته له زړه کتلي وي...

ضرور يې د دوهم کس په زړه کې پټ دردونه...

خواږه اهونه...

او سپېڅلي خيالونه پيدا کړي...

***

زه د سترې نړۍ له سترې ژوند څخه شکايت نه کوم...

زه د سړو ساوو له يخجنو احساساتو څخه نه متاثره کيږم...

زه مې د زړه پټ دردونه د وجود نيمګړتيا نه بولم...

ما يوازې يو شی ځوروي...!!!

کله چې ستا په سترګو کې زما لپاره بې انتها مينه...

او بې انتها بې وسي ووينم.



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او ګیتار د خپل زړه په درد نه ژاړو ...

د ګیتار هر تار زما لپاره نغمې غږوي...

او زما زړه بیا د یوې سپیڅلې مینې په یاد کې ...

اوږدې اوږدې شېبې تیروي ...

***

زه به ستا یاد ته د تقدس په سترګه ګورم...

زه به دې هر خیال د خپل معنویت ستره نړۍ بولم...

زه به ستا د سترګو ځلا...

د خپل تیاره ژوند لپاره پلوشې بولم...

خو زما سپیڅلې مینې...!!!

ته زما مینې ته د (پړ) æ¢ (ناکام) نوم مه ورکوه...

ته مې د جنون متهو ته په خوږو کتو...

د مینې ستر ځواک راکوه ...

او زه به...

همداسې لیونۍ ...

مینه...

درسره کوم.

***

åÒ...

زما زړه...

او زما د سترګو اوښکې...!!!

پوهیږې چې انتظار یعنې څه...؟؟؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د تندي په ښکلوولو کې...
د خپل زړه سکون وینم ..
ستا د سترګو په ښکلوولو سره مې...
روح ته دمه ورکوم ...
او ستا د شونډو په ښکلوولو کې...
د یوې سترې مینې بریا احساسوم.

***

زه مې د زړه له هر درد سره...
ستا بې وسي هم احساسوم.
خو یو ته یې چې زما په ټوله مینه باور نه لرې.

***



زما لیونی زړه وو چې...
د هغې د سترګو په معصومیت یې قسم اخیستی وو...
تر څو خپل زړه دهغې د مینې کوربه کړي...
نن که څه هم زما له سترګو همغومره لیرې یې...
خو د زړه په نړۍ کې مې تر خپل روح ډیره رانږدې یې...
او ستا د معصومو سترګو په سر قسم مې تر سره کړی.

***

ګیتار خبرې نه شي کولی...
خو زه یې د هر تار په ژړغوني اواز کې...
سل دردونه او زر رازونه اورم.
زما له ګیتار سره د مینې راز هم په همدې کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوازیتوب له درده نه ژاړم...

د یوازیتوب له ماحول...

او ذهني کشمکش څخه ویره لرم ..

***

د پښتو لنډۍ...

د مئین له زړه څخه پورته شوې چیغه ده.....

د پښتو لنډۍ د درد ، غم او بې وسۍ...

شهکار انځور دی.

پــه زړه بـــــه لـــویـه تیږه کـــیږم

ستا له یار نه به یې ورو ورو صبرومه

***

سهار کار ته ځي او ماښام بیرته راځي...

سهار مې زړه وړي ماښام یې باید راوړی وي...

خو زما نیازبین جانان یې د راوړلو عادت نه لري...

زه مې د سپیڅلې مینې په هر ستم راضي یم...

په هر ستم یې خوشحاله یم...

ځکه زړه مې بې حده زیاته مینه ورسره لري.

***



هغې زما د اوښکو وچولو ژمنه راکړې...

خو وخت یې نه دی را ښودلی چې کله...

ای زما سپیڅلې مینې...!!

زه به تر کومه د خپلو اوښکو دردونه...

ستا د وصال په تمه بهوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زما، ستا او تقدیر محکمه وشي...!!!

زه له قاضي څخه یوه غوښتنه کوم...

هغه دا چې...

د سپېڅلو زړونو سپېڅلی قاضي صاحب...!!!

تقدیر زموږ د بیلتون په ګنا مه نیسه...

بلکې تقدیر زمور د مینې په تدبیر ونازوه.

***



دیوالونو ته مې تل پناه وړې...

دیوالونو تل زما یوازیتوب زغملی...

دیوالونو که راسره ژړلي نه دي...

خو ...!!!

زما مینه یې ضرور د زمانې له بدرنګیو څخه...

ها خوا ساتلې.

***

زما او ستا زړونه د حوس په تار نه دي تړلي...

چې دوخت په تیریدو یې...

تارونه سست شي او راولویږي ...

بلکې...!!!

د یوې سپېڅلې مینې په کرامت تړلي...

چې د وخت په تیریدو به نور هم پیاوړي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغې له ښکلو سترګو څخه نه تښتم...
خو د هغې د سترګو له بې وسۍ او معصومیت څخه...
ضرور تښتم.
ځکه...!!!

پوهیږم چې د هغې سترګې به مې...
د ایمان زوال ته کښینوي.

***

ته پوهیږې...؟؟؟
ما ستا د خپلولو لپاره ډېر څه وکړل ...
خو...!!!
یوازې او یوازې هغه د ګومان د اور بڅرکی چې...
په کومه لاره ستا زړه ته ننوتلی و...
مړ مې نه شو کړای...
هماغه بڅرکي زما او ستا د ژوند ټولې هیلې وسېزلې.

***

ښه خلک تل رښتیني وي...
زه ښه نه وم، خو...
د ښو خلکو ناستې زه هم ریښتنی کړم...
له مینې ډکو خلکو مینه راوښوده...
با شعوره خلکو د ژوند هدف راوښود...
او بې غرضو خلکو معصومیت راوښود.
مشران څومره سوچه خبرې کوي.
(چې اوسې په خوی به د هغو شې)



(c) ketabton.com: The Digital Library





راځئ ژوند ته هدف وټاکو...!!!

زما د ژوند هدف...

د انسانیت هرې ټوټې ته...!!!

د مینې ، خوشحالۍ او سکون پیوند ورکول.

***

کله کله مې د زړه درد ډېر ناطاقته کړي...

عجیبه دا وي چې...

همدغه وخت د چا د خندا تصویر ذهن ته راځي...

هماغه خندا وي...

چې بې حده درد هم په زړه خاموشه تېروم.

***

نن دې هم یادوم...

نن دې لا ډیره یادوم...

نن مې د سګرېټ لوګی د سینې تل ته نه رسیږي...

نن ډیر درپسې خفه یم...

***

خیر دی که د هغې له وجود سره نه یم...

د هغې له روح سره خو د سپیڅلې مینې په تار تړلی یم...

هغه زما د هر احساس ژوندۍ بڼه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوښکو حالت مختلف وي...
غم ، خوشحالي ، خندا ، ژړا ، مستي ، درد.
خو نن مې بېخي اوښکې نه درېدې...
ځکه...!!!
د چا له لاسه چې بهېدې...
هماغه مې اوښکې وچولې...
همدې احساس نور هم ژړولم.

***

هغه ورځ چې تا وېنم مازديګر به وي...
باراني او نمجنه هوا...
اسمان به حیران وي...
زه او ته به حیران یو...
ستا د سترګو اوښکې به زه پاکوم...
او زما اوښکې به ته...
زموږ د سپېڅلې مینې سپېڅلتیا به...
هم هغسې وي خو...
د بیلتون ویره به مو د حیا فاصلې را لنډې کړي...
او زه به دې سینه پسې ټینګه کړم...
آخ څومره رومانتیک مازدیګری...!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له خپلي بې وسۍ سره يوازې دومره کولی شم چې...

سترګې پټې کړم...

سر په ديواله ووهم...

او اسمان ته چيغې کړم ...

خدايه ...!!!

هغه زما کړې.

***

ما نه غوښتل ستا سترګې لمدې کړم ...

ما نه غوښتل ستا باڼه نمجن شي ...

ما نه غوښتل ستا سلګۍ واورم ...

خو زما سپيڅلې مينې ...

دا هر څه د تقدير کرښو وکړل ...

***

کله چې ستا ياد پرېږدم ..

ته پوهېږې څه کېږي ؟

د ځوانۍ د نګه ونه مې په پريوتو شي ...

د خزان تيز بادونه مې ورکوي ...

او هر احساس مې روح ته د وتو اجازه ورکوي ...



(c) ketabton.com: The Digital Library





زه چې کله هم خپل ځان فنا کول غواړم ...
د هغې یادونه مې بیرته هغه ځای ته راوړي ...
له کومه ځایه چې ...
هم په تیښته کې یم ....
هم ویره ورڅخه لرم ....
او هم مینه ورسره کوم ...

***

تا یادوم ...
تا غواړم ...
ستا په هکله اوږده اوږده فکرونه کوم ...
او ستا په یاد د سکون په لټه کې یم ...

***

زما سپېڅلې مینې ...
تا زما او زما د ژوند ړنګې لارې په خپله سپېڅلتیا ښکلې کړې ...
ستا په نه موجودیت کې هم ....
زه له خپلو ناخوالو څخه خوند اخیستلی شم ...

***

زه د رنګونو مینه وال یم ...
زه د هرې ښکلا د لیدو بې انتها تږی یم ..
زه ستا له ښکلا بیرته ستا تر ښکلا ...
هرې ښکلا ته ستا د ښکلا په احترام ګورم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند کې به ډیر اخترونه راشي ...

ډیرو خلکو ته به په خوښۍ ورغاړي وزوو...

خو زما سپیڅلې مینې!!!

هغه اختر به کله راشي چې تا ته په سترګو سترګو کې

ووایم (اختر دي مبارك شه )...

***

له اختره تر اختره ټولې ورځې دې اختر اختر شه ...

او د اختر ورځې دې د ژوند غاړې ته د رنګینیو او خوښیو هار شه

***



اختره...

دا ځل هم له رنګینیو سره راشه...

هر چا ته پریمانه خوښي ورکه ...

خو زما برخه خوښي زما سپیڅلې مینې ته ورکه ..

***

سږ کال اختر را ته دوه حالته سترګو ته کړل .....

هغه اوس د ژوند نوی ملګری لري....

حق یې دی شاید خوشحاله اوسي ....

æÇ.......


زما ، د اختر له نامه سره د کړۍ کړۍ ستوني درد علت

د هغې نه لرل دي.....

ما د ژوند هر څه له لاسه ورکړل.....

(c) ketabton.com: The Digital Library





ما مې په ژوند کې هر څه لپاره حد ټاکلی .....

خو......

یوازینی ستا سپېڅلې مینه وه چې بې حده لیونی یې کړم ..

***

په خاموشۍ کې نارې وهم چې.......

زما سپېڅلې مینه.....

تا سره ددې لپاره نه وه......

چې ته دې زما په ژوند کې یو څه شي بلکې .....

ددې لپاره وه چې ته خپله زما په ژوند کې یو څه یې ...

***

هر ځل خدای پامانۍ درد راکاوه ....

او تل مې ویل چې کاش کې مو د ژوند دا سخته شیبه نه لیدله ...

خو نن رانه بې خدای پامانۍ لاړې .....

ایله پوه شوم......

چې پر ته له خدای پامانۍ تګ دې بېرته د راتګ او سلام هغه هیلې را غوښې کړي .

***

ستا د یادونو او غمونو په سړو ساه ایستو مې کله هم زړه سوړ نه شو ...

خو ستا ژورو خیالونو مې تل مخ ته پرته دچایو پیاله سړه کړې ..

او همداسې مې پرېښې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقدسه شپه مې له خدايه د وصال د عمر د زر مياشتو ثواب وغوښت .

دا عقيده ده که ليونتوب؟

زړه مې وايې لاس به مې له دعا ښکته نه وي چې داسې غږ واورم

(( ليونی ! زه راغلم ))

***

زه ستا په څنګل د خوبونو ارزو نه لرم ...

زه دې په شونډو کې د خوږې مسکا...

په ژوند کې د بې انتها خوښۍ ...

او په سترګو کې د سپيڅلې مينې خوبونه وينم ...

***

زما سپيڅلې مينې ته خبره يې ...؟؟؟

اوس مې د زړه لارې تړلې دي ...

او کيلي يې ستا د بيلتون سيلۍ له ځانه سره وړې ...

هو!!! .....

ستا د وتلو لارې يادوم ...

***

ستا د خوږې مينې ټوله هستي مې په زړه بار ده ...

زه يې په ناز ګرزوم او خوند ورڅخه اخلم...

هغوی چې د مينې هستي د زړه درد بولي څومره نادان دي ...



(c) ketabton.com: The Digital Library





بیا هم سره ساه...

بیا هم ساړه اهونه ...

او بیا هم زه او زما یوازینۍ ملګرې ((سایه ))....

چې نه مې په غم کې پریږدي او نه په خوښۍ کې ...

***

زه به دې نه یادوم ..

زما زړه به دې هم نه یادوي...

خو زما سپېڅلې مینې!!!

آیا ...

هغه روح چې ستا په یادونو یې زما تن ژوندی ساتلی

او ستا په نامه یې له ما سره وفا کړې ...

څنګه صبر کړم ....

***

ستا خالي ځای مې هغه وخت ډیر ځوروي ...

کله چې مې زړه درد وکړي ، سترګې پټې کړم ...

بې اختیاره وژاړم ...

او لاس مې تر څنګ په خالي ځای ولګیږي ...

کاشکې مې ته خوا کې وی....... .......

***

د زړه د ننه درد د بې ریا اوښکو چینه بهولی شي ..

او بې ریا اوښکې بیا هر زړه دردولی شي ...

نن د یو چا یادونو د خیال هغه نړۍ ته وړی وم ...

چیرته چې ..

زه ، زما مینه او زموږ خالق وو ...

خو بیا مې هم د هغې شونډې نه دي ښکل کړي ...

ځکه چې موږ دواړه خپل خالق ته په روژه ووو ...

ـ زموږ مینه لا هم هغسې سپیڅلې پاتې ده .

***



یوه پاکه او سپیڅلې مینه وه چې

خواږه دردونه ..

رنګین خیالونه ...

او سپیڅلي احساسات یې را کړل ...

***

ستا یادونو زما په زړه کې ....

بې انتها ژورې کندې استي دي ....

هلته یې د خیالي نړۍ د ابادولو په بهانه.....

ښکلې او دنګې ماڼۍ جوړې کړې دي ...

ته اوس د یوې پټې....

خو ښکلې نړۍ.....

بې تاجه پاچا یې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا په لور د یوه اوږده مزل ستړی لاروی یم ...

زما منزل زما په هر قدم له ما څخه نور هم لیري ځي ...

زما او ستا د وصال ستوری تر اووم اسمان هم هاخوا ځلیږي ..

زه او ته د کوم زاړه داستان ریښتوني خو بې وصاله ستوري یو ...

چې یو ځل بیا به بې وصاله فنا شو!!!! ....

***



دا څو کاله مې له خپل ذهن سره په دې دعوه وې.....

چې زما انتظار بې هیڅه نه دی ....

ته به خامخا راځې .....

خیر دی د پیکي هغه مستانه وږم دې نښه راولیږه ....

خیر دی له خپل ذهن سره مې له جنګ او دعوو خلاص کړه ....

***

زه دې د ښکلا د رنګینیو بقا غواړم ...

زما زړه دې د سپیڅلې مینې اوږد او مقدس ژوند غواړي ..

ستا په هکله هر خیال او فکر مې ستا پټ او خوښي غواړي ....

نو ته یوه شه چې هره ګړی مې په یاد یې

او هره ګړی دې لمانځم ...

***

ستا هغه له مینې او په ناز د لیوني ویل و....

چې اوس مې په ریښتیا و خلک لیونی بولي......

د زړه له درده وایم کاش کې دې نه ویلی.....!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند دومره ښکلی دی لکه په شنه ځنګل چې باران وشي ...

خو زما سپېڅلې مینې ته مې د سترګو نظر یې ...

ته چې نه یې زه به د ژوند ښکلا او تازګي څنګه وینم ؟؟؟!!

***

ګیتار په دروند او غمجن غږ راته وایي ..

مه ژاړه ... مه ژاړه ... مه ژاړه ....

زه پوهیږم چې ګیتار زما په غم کې تر ما ډیر ژاړي ...

ما هغه په غیږ کې نیولی ...

مور دواړه د یو چا په غم کې ډوب پاتې یو ...

او یوبل ته ډاډ ورکوو!!!..

***

تل مي ستا خوشحالي ارزو ده ...

تل ستا د سپېڅلې مینې بقا غواړم ...

نن بیا هم د زړه له تله وایم ...

زه که په هر حال یم خو زما سپېڅلې مینه دې ګل او ګلزار وي ـ

***

زما روژه ده ...

زه به تر ماښامه صبر وکړم او ما ته به یې کړم ...

خو زما سپېڅلې مینې..

ستا د بیلتون اوږده او سخته روژه به کله ماتوم ..



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چې تل یې زه ژړولی یم ....

ستا یادونه...

د زړه درد ...

او د تقدیر پریکړې ...

***

زما د هر قدم په وړاندې زما د ژوند مجبوریتونه پراته دي ...

اوس مې ژوند د مجبوریتونو رنګ اخیستی

ای زما سپېڅلې مینې!!!

ته ډاډه اوسه ، لا مې د زړه تل ته مجبوریتونو لار نه ده موندلې ...

***

زه دې د خاموشه طبیعت په راز خبر یم .

زه دې د زړه د دردزا سندرې اورم

خو ته .......!؟

ته مې ولې په تورو سترګو کې

هغه یوازینۍ او سپېڅلې هیله یې چې

زړه دې راکړی

نه وینې!؟

***



ژونده!!!

آیا زه د سپېڅلې مینې په احترام کې رېښتونی پاتې شوی یم ؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مې سترګه نه رپيږي .....

نن مې سترګې سوځي...

شايد يوه ورځ....

ړندې شي.....

ای تا ته وايم !

ته به کله راځې؟

***

له تا وروسته ....

مې ډېرې نمبرې بدلې کړې....

خو اوس هم .....

چې زنګ راشي....

لمړی نفر مې ته ذهن ته راځې....

ايا مينه مري !؟

***



زه د باران هر څاڅکی احساسوم...

راځه ما سره په بارانه کې روان اوسه....

چتر پر تا نيسم .....

ګوندې لمده شم او ته مې....

هم احساس کړې!!!!

***

شپه په سړو ساوو تيره شوه ...

او سهار مې په سړو ساوو پيل شو ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا له سپیڅلې مینې سره یوازې ژوند تیروم ..
زه له ژوند سره ژوند تیروم ...
زه له هغه چا سره ژوند تیروم چې له ما سره نشته ...
زما د ژوند فلسفه څومره عجیبه ده ...

***

له چا پوښتنه وکړم؟
زما په اوږو ناستو فرښتو به یوازې زما د خولې خبرې لیکلې وي...
او که د خاموشۍ هم ؟
خو ځه خیر !
ګرانې ! دواړه وخت مې ستا نامه ډېره یاده کړې.....

***

دا څومره ښکلې جمله ده (زما ګرانې)
ددې جملې په هکله مې نن فکر وکړ ....
دا هغه یوازینۍ جمله ده چې زما له خولې څخه بې اختیاره وزي ...
او دا رښتیا هم د سپیڅلې مینې لومړۍ نښه هم ده ...

***

کله چې له ډیرې ژړا وروسته سړه ساه وباسم...
ته پوهیږې څه کیږي؟
زما روح ، زما حواس ، زما احساس او زما زړه دومره سپیڅلي شي ...
لکه ستا د سترګو رڼې اوښکي ...



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د حساب په ورځ ایمان لرم ....

یوه پوښتنه ؟

د خپل فطرت سزا مې چا ته ورکړم...؟

څه مې چې خوښ دي هغه مې ځوروي او دردوي ولې...؟

***

له زړونو تر زړونو فاصلې ډېرې په اسانۍ را لنډیدلی شي ...

او همدومره په اسانۍ اوږدیدلی شي ...

دا تجربه مې ستا د سترګو په مسکا او ژړا کې ومونده ..

***



له تا لرې یم

له هر چا لرې یم

هیڅوک هم نشته

خو بیا هم شور دی شور ....

(خاموشي غواړم ، مرګه نه راځې؟)

***

زموږ تر مینځ اوږده فاصله د تقدیر پریکړه وه ...

خو زموږ مینه له یو بل څخه پټه ساتل د چا پریکړه وه ؟؟؟

***

ستا له سترګو هاخوا نړۍ څومره بیګانه ښکاري ...

زما سپیڅلې مینې ته مې د ژوند ښکلا یې ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ....

پخوا لاره بدله کړه.....

Óæç ....

زه په داسې ځای کې یم..

چې مخې ته مې...

دوه لارې ...

یوه....

د شور او د ښار....

بله......

د خاموشۍ او تنهایۍ!!!

خیر دی ، له کومې خوا....

غېږ راو کړه.....

د اصیل سکون لپاره...

کومه....

انتخاب کړم؟

***

په څه ډول؟

په کومو الفاظو؟

او څنګه

درته ووایم؟

چې ستا رازونه او خاموشي مې وژني.....



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه تل خاموشه وم.....

زما د زړه په هرې خبرې ستا پوهېدل ....

هماغه سپېڅلې مینه وه چې ستا له تګه وروسته

یې هم....

درسره کوم...

***



اوس هر څه بدل شوي ...

هغه طبعیت چې ما به خوند ورڅخه اخیسته اوس هم شته ...

خو خوند په کې نشته ...

زما سپېڅلې مینې ته ډېره خوږه یې .....

خو ستا له بېلتونه وروسته ژوند ولې دومره تریخ دی؟؟؟ ...

***

د هغې له رازونو ډکې سترګې مې ګوښه ځایونو ته بیایي ..

سپېڅلې مینه یې د ژوند ریښتونې کیسې را ته کوي ..

او د سترې ژوند له بدرنګیو څخه مې فنا کوي ..

سپېڅلې مینه څومره ښه ده ...

***

هر زړه په عابدي بند بندي دی ...

خو فرق یې داوي چې ځینې یې په سپېڅلو پرښتو سپاري ..

او له ځینو څخه یې بدرنګه زمانه وړي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا يادونه مې په باراني ورځ ډير ځوروي ..
ځکه ټول کاينات تازه او رنګين وي ...
يوازې زه او زما زړه مړاوی او غمګين يو ...

***

يادونه ، خيالونه او دردونه ...
د هر ژوي په زړه کې ځانګړی ځای لري ..
کله چې دا هر څه تل پاتې شي سپيڅلې مينه ترينه جوړيږي ...
او دا هر څه بيا د زړه ټوله هسته نرمه ساتي ..
په پايله کې هر ژوي ته سپيڅلی حس ورکوي ...

***

د هغې له سپيڅلې مينې وروسته مې د زړه دروازه بنده ساتلې ..
نه غواړم څوک يې خلاصه کړي ...
ځکه !!!
هسې نه زړه مې د ژوند رنګ واخلي او بدل شي ...

***

سپيڅلي انسانان د ماشومانو په څير زړونه لري ..
پاک ګرځي...
پاك ژوند كوي..
او پاکې اوښکې تويوي ..



(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلې مینه تور او سپین ته نه ګوري...

له زړه سره یې کار دی ...

بس هر څوک ژړولی شي ...

***

مینې !!!

که ته نه وی...

د ژوند شیبې به هم تورې او سپینې وی ...

***

لنډه کیسه::

یو خور ÏÑÏ ..

یوه خوره مینه ...

سپېڅلي یادونه ...

او یو عمر انتظار ...

***

ستا سپېڅلي یادونه ..

د انتظار سړه سیلۍ.....

او د کاینا تو درونډ سکون..

دا هر څه.....

د یوې تل پاتې مینې انځور ...

***

راځئ د ژوند تورې ورځې د ښو دوستانو په شتون رنګینې او ښکلې کړو



(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دې انځور ته کتل ...

په انځور کې دې بې وسې نغښتې وه ..

ما دې په انځور کې بې انتها مینه ولیدله

زه یې ځانته ورغوښتلم ...

زموږ د خیال نړۍ څومره ازاده ده ...

ما دې له انځور نه په بې شرمۍ خوله واخیسته....

ستا د سپېڅلې مینې په احترام بښنه غواړم

***



ته ډېېېېره لرې لاړې....

خو هغه .....

زما د زلمیتوب نشه .....

به راته په همدې ورځو کې ......

د ژوند د پای نامه کیږدي ..

او ته به ناخبره یې .....

***

ستا له تګ وروسته مې

که ستا په اړه څه لیکل

نو همدلته مې ولیکل

نن مې یو نظر پر خپلې کلنۍ خبرو تېر کړ .

ټول کال مې بختور و چې په کې تا سره غږېدلی وم

وعده کوم چې همداسې به دا نور کلونه دلته ستا سپېڅلې مینه لمانځم ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا د ټیلفون په انتظار کې ډ کې سترګې ویده شوي یاست ...؟

ایا کله مو د چا لیک میسج یا ایمیل ته شپه سبا کړې ...؟

کله هم ستاسو زړه د بل په یاد کې دردیدلی ...؟

د چا د لاس ښبه مو په زړه پوري ټینګه نیولې ..؟؟

د سترګو اوښکې مو پټې پاکې کړې...؟

او ، یا مو له ملګرو څخه ...

د ناروغۍ په بهانه ځان یوازیتوب ته سپارلی ..؟

که دا هر څه درسره شوي وي ...

بیا تاسو !!!...

سپېڅلې مینه کړې ...



***

نن د سپېڅلو زړونو د اړیکو ورځ ده ...

نن د میني ورځ ده ...

نن زما او ستا ورځ ده ...

نن ورځ دې سپېڅلو زړونو ته ډېره ډېره مبارک وي ...

***

که غواړې هغه غوښتنې چې پوره کیدل یې ناشوني وي پوره کړئ....

د خیالونو نړۍ ته پنا یوسی ...

همدا خیالونه دي چې زموږ د ژوند شیبو ته......

کله کله تر اوو رنګونو زیاته ښکلا ورکولی شي ...

Get More e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library